هغه څوک زمونږ څخه ندی چې (د یو څه په لیدلو سره له غیبو) وړاندوینه وکړي او یا ورته وړاندوینه وشي، کوډې وکړي او یا ورته کوډې وشي، جادو وکړي او یا ورته جادو وشي

له عمران بن حصين رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي: «هغه څوک زمونږ څخه ندی چې (د یو څه په لیدلو سره له غیبو) وړاندوینه وکړي او یا ورته وړاندوینه وشي، کوډې وکړي او یا ورته کوډې وشي، جادو وکړي او یا ورته جادو وشي، او هر څوک چې کوډګر ته ورشي او په هغه څه کې یې ریښتینی وګڼي چې هغه یې وایي، نو پر هغه څه یې کفر وکړ چې پر محمد - صلى الله عليه وسلم - نازل شوي دي".

[حسن] [البزار روایت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم له خپل امت څخه هغو کسانو ته پدې وینا سره خبرداری ورکوي چې ځینې کړنې یې کړي وي، فرمایي چې: "زمونږ څخه ندي" هغه خلک چې: لومړی: "من تَطَيَّرَ أو تُطُيِّرَ له" دا په اصل کې: د مرغۍ له الوځولو څخه اخیستل شوی دی چې کله به هغوی په کوم کار او یا سوداګرۍ پیل کاوه نو مرغۍ به یې خوشې کړه؛ که چېرته به یې ښي لور ته الوتنه وکړه په نیک فال به یې ونیوله او د هغه کار پسې به روان شو چې اراده یې کړې وه، خو که چېرته به یې چپ لور ته الوتنه وکړه، نو په بد فال به یې ونیوله او له خپل کار څخه به لاس په سر شو، نو دا کار د خپل ځان لپاره هم ناروا دی او د بل چا لپاره هم چې دنده ورکړل شي تر څو یې ورته تر سره کړي، او پدې کې هر بد فال نیول شامل دي که هغه اوربدل وي او یا د کوم شي لیدل، له مرغیو، څارویو، مصیبت ځپلو، شمېرو، ورځو او داسې نورو څیزونو څخه. دویم: له "من تَكَهَّنَ أو تُكُهِّنَ له"څخه مراد دا دی چې څوک چې د ستورو او نورو شیانو په کارولو سره په غیبو د پوهېدو دعوه وکړي، یا داسې چاته ورشي چې د کاهن او داسې نورو په څېر په غیبو د پوهېدلو دعوه وکړي او په هغه څه باور وکړي چې هغه یې له غیبو وایي، نو په هغه څه یې کفر وکړ چې پر محمد صلى الله عليه وسلم نازل شوی دی. دریم: "من سحر أو سحر له" یعنې دا چې څوک په خپله سحر وکړي او یا بل چاته دنده ورکړي چې سحر ورته وکړي؛ تر څو پرې چاته ګټه او یا زیان ورسوي، او یا تار ته غوټه ورکړي او د حرامو دمونو په چف کولو سره پرې جادو وکړي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5981

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee